دافغانستان اسلامي جمهوریت
دعدلیې وزارت

# رسمي جریده

## د تولید د سیمو دجغرافیایي نښو قانون

## قانون نشانه های جغرافیایی محل تولید

دخپرېدونېټه:د۱۳۹۴ هـ.ش کال د زمري دمیاشتې (۲۶)
پرله پسې نمبر:(۱۱۷۸)

تاریخ نشر: (۲۶) اسد سال ۱۳۹۴ هـ . ش
نمبر مسلسل: (۱۱۷۸)

| | |
|---|---|
| د امتیـــاز خاوند: | دعدلیـــې وزارت |
| مسئول چلوونکی: | قانونمل محمدرحیم "دقیق" |
| | ۰۷۰۰۵۸۷۴۵۷ |
| د دفتر تیلفون: | ۰۷۵۲۰۵۲۷۰۹ |
| مرستیال:نورعلم | ۰۷۰۰۱۴۷۱۷۸ |
| مهتمـــم:محمد جان | ۰۷۸۳۳۰۶۹۸۲ |
| وب سایت: | www.moj.gov.af |

قیمت این شماره: (۳۰) افغانی

تیراژ چاپ: (۳۰۰۰) جلد

مطبعه: بهیـــــر

آدرس:وزارت عدلیه، ریاست نشرات‌وارتباطعامه، چهارراهی پشتونستان

## د تولید د ځای د جغرافیایی نښو د قانون د توشیح په هکله د افغانستان اسلامي جمهوریت د رئیس فرمان

ګڼه: (۳۷)

نېټه: ۲۴/ ۴/ ۱۳۹۴

لومړۍ ماده:

د افغانستان د اساسي قانون د (۶۴) مادې د (۱۶) فقرې د حکم له مخې، د تولید د ځـای د جغرافیـایی نښــو د قــانون په هکله، د ملي شوري د مجلسینو د ګډ هیئــــت د ۳۰/ ۲/ ۱۳۹۴ نېټــــې (۱۵۸)ګڼه فیصله،توشېح کوم.

دوه یمه ماده:

دغه فرمان د توشېح له نېټې څخه نافذ او دملي شوري د مجلسینو له فیصـلې او د نو موړي قانون له متن سره یو ځای دې، په رسمي جریده کې خپور شي.

محمد اشرف غني

دافغانستان داسلامي جمهوریت رئیس

## فرمان رئیس جمهوری اسلامی افغانستان در مورد توشیح قانون نشانه های جغرافیایی محل تولید

شماره: (۳۷)

تاریخ:۲۴ /۱۳۹۴/۴

مادهٔ اول:

به تأسی از حکم فقرهٔ (۱۶) مادهٔ (۶۴) قانون اساسی افغانستان، فیصلهٔ شــماره (۱۵۸) مؤرخ ۱۳۹۴/۲/۳۰ هیــأت مختلط مجلسین شورای ملی را در مورد قانون نشانه های جغرافیایی محل تولید، توشیح می دارم.

مادهٔ دوم:

این فرمان از تاریخ توشیح نافذ و همراه با فیصلهٔ هیأت مختلط مجلسین شورای ملی و متن قانون متذکره، در جریــدهٔ رسمی نشر گردد.

محمد اشرف غنی

رئیس جمهوری اسلامی افغانستان

**د افغانستان اسلامي جمهوري دولت**

**ملي شوري**

**د توليد د سيمو د جغرافيايي نبنو د قانون د طرحه فيصله**

**پرله پسې ګڼه: (۱۵۸)**

**د فيصلې نېټه: ۳۰/ ۲/ ۱۳۹۴**

د افغانستان د اساسي قانون د سلمې مادې له درج شوي حکم سره سم، د ملي شوري د دواړو جرګوله څلورو، څلورو غړو څخه جوړشوي ګډ هيئت د توليد د سيمود جغرافيايي نبنو د قانون طرحه په (۳) فصلونو او (۲۱) مادو کې د ۳۰/ ۲/ ۱۳۹۴ نېټې د چهارشنبه ورځې په غونډه کې فيصله کړه.

**د ګډ هيئت رئيس**

**داکتر انار کلی هنريار**

**د ګډ هيئت معاون**

**حاجي محمد هاشم**

**دولت جمهوری اسلامی افغانستان**

**شورای ملی**

**فيصله طرح قانون نشانه های جغرافيايی محل توليد**

**شماره مسلسل: ( ۱۵۸ )**

**تاريخ فيصله: ۱۳۹۴/۲/۳۰**

به تأسی از حکم مادۀ صدم قانون اساسی افغانستان، هيئت مختلط مجلسين شورای ملی به ترکيب چهار، چهار نفر از اعضای هر جرگه طرح قانون نشانه های جغرافيايی محل توليد را در (۳) فصل و (۲۱) ماده در جلسۀ روزچهارشنبه مؤرخ ۱۳۹۴/۲/۳۰ فيصله نمود.

**رئيس هيئت مختلط**

**داکتر انار کلی هنريار**

**معاون هيئت مختلط**

**حاجی محمد هاشم**

## فهرست مندرجات قانون نشانه های جغرافیایی محل تولید

### فصل اول

### احکام عمومی

| ماده | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| مادۀ اول: | مبنی | ۱ |
| مادۀ دوم: | اهداف | ۱ |
| مادۀ سوم: | اصطلاحات | ۲ |

### فصل دوم

### نشانه های جغرافیایی محل تولید

| ماده | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| مادۀ چهارم: | ثبت نشانه های جغرافیایی محل تولید | ۴ |
| مادۀ پنجم: | حفظ و نگهداری اسناد | ۴ |
| مادۀ ششم: | درخواست ثبت | ۴ |
| مادۀ هفتم: | ارائه اسناد | ۷ |
| مادۀ هشتم: | ارزیابی درخواست | ۹ |
| مادۀ نهم: | حمایت نشانه های جغرافیایی محل تولید | ۱۰ |
| مادۀ دهم: | اعتراض | ۱۱ |
| مادۀ یازدهم: | پاسخ به اعتراض | ۱۲ |
| مادۀ دوازدهم: | تصمیم دفتر ثبت | ۱۳ |
| مادۀ سیزدهم: | تصحیح اشتباه | ۱۴ |

مادهٔ چهاردهم: حذف نشانه های جغرافیایی محل تولید.....۱۵
مادهٔ پانزدهم: حق مراجعه به محکمه .......................۱٦
مادهٔ شانزدهم: موارد تخلف.................................۱٦

فصل سوم

احکام متفرقه

مادهٔ هفدهم: دسترسی به نشانه های ثبت شده............۱۷
مادهٔ هجدهم: موارد عدم تطبیق احکام این قانون...........۱۸
مادهٔ نزدهم: رسیدگی به تخلف..........................۱۹
مادهٔ بیستم: وضع مقرره ها و طرزالعمل ها...............۱۹
مادهٔ بیست ویکم: انفاذ.....................................۱۹

## د تولید د سیمو
## د جغرافیايي نښو
## قانون
## لومړی فصل
## عمومي حکمونه

**مبني**

**لومړۍ ماده:**

دغه قانون د افغانستان د اساسي قانون د یوولسمې او دیارلسمې مادې د حکمونو په رڼا کې، وضع شوی دی.

**موخې**

**دوه یمه ماده:**

ددې قانون موخې عبارت دي له:

۱- د تولید د سیمو جغرافیايي نښو د ثبت د اړوندو چارو تنظیمول.

۲- د یوې ټاکلې ساحې یا سیمې د کالیو (مالونو) له تولیداتو څخه ملاتړ کول.

۳- دنورو هېوادونو دتولیداتو د تشخیص او تفکیک په غرض، پر اړوندو تولیداتو باندې د هماغې ساحې یا سیمې د تولید د سیمې د جغرافیايي نښې نښلول (نصبول).

## قانون
## نشانه های جغرافیایی
## محل تولید
## فصل اول
## احکام عمومی

**مبنی**

**مادۀ اول:**

این قانون در روشنی احکام مواد یازدهم و سیزدهم قانون اساسی افغانستان، وضع گردیده است.

**اهداف**

**مادۀ دوم:**

اهداف این قانون عبارت است از:

۱- تنظیم امور مربوط به ثبت نشانه های جغرافیایی محل تولید.

۲- حمایت از تولیدات کالا های یک ساحه یا منطقۀ معین.

۳- نصب نشانۀ جغرافیایی محل تولید همان ساحه یا منطقه، بالای تولیدات مربوط، غرض تشخیص وتفکیک تولیدات از سایر کشورها.

۴- د سوداګريزو کاليو له تقلب څخه مخنيوی.

۵- د هماغې ساحې يا سيمې د توليد د سيمو له جغرافيايي نښنو څخه ملاتړ چې پر توليد شوو کاليو، کرنيزو، حيواني او خوراکي محصولاتو، لاسي صنايعو يا صنعتي توليداتو باندې نښلول کېږي.

## اصطلاحګانې

**درېيمه ماده:**

دغه اصطلاحګانې پدې قانون کې لاندې مفاهيم افاده کوي:

۱- د توليد د سيمې جغرافيايي نښه: هغه نښه ده چې د ځانګړې توليد د سيمو د ټاکلې ساحې يا سيمې معرفي کوونکې وي چې د هماغې ساحې يا سيمې د توليد شوو کاليو نوعيت، کيفيت، اعتبار او نور ځانګړي مشخصات ښيي.

۲- د مرکزي ثبت دفتر: هغه اداره ده چې د سوداګرۍ او صنايعو وزارت په چوکاټ کې رامنځته کېږي.

۳- مسئوله مرجع: هغه واکمن شخص (انجمن، متشبث، دولتي ادارې، صنعتي اتحاديې، کوپراتيفونه، د افغانستان د

۴- جلوگیری از تقلب کالاهای تجارتی.

۵- حمایت از نشانه های جغرافیایی محل تولید، همان ساحه یا منطقه که بالای کالاهای تولید شده، محصولات زراعتی، حیوانی وغذائی، صنایع دستی یا تولیدات صنعتی نصب می گردد.

## اصطلاحات

**مادۀ سوم:**

اصطلا حات آتی در این قانون مفاهیم ذیل را افاده می نماید:

۱- نشانۀ جغرافیایی محل تولید: نشانۀ است که معرف ساحه یا منطقۀ معین محل تولید خاص بوده که نوعیت، کیفیت، اعتباروسایر مشخصات به خصوص کالاهای تولید شدۀ همان ساحه یا منطقه را نشان می دهد.

۲- دفترثبت مرکزی: ادارۀ است که در چوکات وزارت تجارت و صنایع ایجاد می گردد.

۳- مرجع مسئول: شخص ذیصلاح (انجمن، متشبث، ادارات دولتی، اتحادیه های صنعتی، کوپراتیف ها،

سوداګرۍ او صنايعو خونې او د هغو په خبر دي.) چې د ټاکل شوو ستندردونو مطابق، په مشخصه ساحه يا سيمه کې د توليد د سيمو له جغرافيايي نښنو څخه د څارنې، کنترول او ګټې اخيستنې واک لري.

۴- سوداګري: اقتصادي، صنعتي، توليدي، تخصصي او سوداګريز فعاليتونه لکه د کاليو برابرول او د خدمتونو وړاندې کول دي.

۵- توليد کوونکی: هغه شخص يا بنسټ دی چې د کرنيزو، حيواني او خوراکي محصولاتو په توليدولو يا د صنعتي او لاسي صنايعو په جوړولو يا توليدولو بوخت وي يا د توليد په منظور، له طبيعي موادو څخه ګټه اخلي.

٦- د توليد د سيمو د جغرافيايي نښنو ګټه اخيستنه: د توليد د سيمو د جغرافيايي نښنو استعمالول په راکړه ورکړه، پېر او پلور، د پلورلو په وړانديز، هديې، تبادلې، وارداتو، صادراتو او تبليغاتو، کاليو، کانتينر، بسته بندۍ يا برچسپ يا په هغو پورې اړوند هر سند کې دي.

اتاق تجارت و صنايع افغانستان وامثال آن است.) که مطابق ستندرد های تعيين شده، صلاحيت نظارت، کنترول واستفاده از نشانه های جغرافيايی محل توليد را در ساحه يا منطقهٔ مشخص دارا می باشند.

۴- تجارت: فعاليت های اقتصادی، صنعتی، توليدی، تخصصی و معاملات تجارتی مانند تهيه کالاها وارائه خدمات می باشد.

۵- توليد کننده: شخص يا نهادی است که به توليد محصولات زراعتی، حيوانی و غذائی يا ساخت وتوليد ابزار صنعتی وصنايع دستی اشتغال داشته يا از مواد طبيعی به منظور توليد، بهره برداری می نمايد.

٦- استفادهٔ نشانه های جغرافيايی محل توليد: استعمال نشانه های جغرافيايی محل توليد در داد و ستد، خريد وفروش، پيشنهاد فروش، هديه، تبادله، واردات، صادرات و تبليغات، کالا، کانتينر، بسته بندی يا بر چسپ يا هر سند مربوط به آنها می باشد.

۷- شخص: کورنی یا بهرنی حقیقي یا حکمي شخص دی.

۸- منشأ: هغه سیمه یا جغرافیایي موقعیت دی چې کالي هلته تولیدېږي.

## دوه یم فصل

## د تولید د سیمې د جغرافیایي نښې

**د تولید دسیمو د جغرافیایي نښو ثبتول**

**څلورمه ماده:**

د تولید د سیمې جغرافیایي نښې ددې قانون د حکمونو مطابق، ثبتېږي.

**د سندونو ساتنه**

**پنځمه ماده:**

د مرکزي ثبت دفتر، د تولید د سیمو دجغرافیایي نښو د اړوندو سندونو د ساتنې په منظور، ددې قانون د حکمونو مطابق، د الکترونیکي سیستم په شمول، منظم سیستم رامنځته کوي.

**د ثبت غوښتنلیک**

**شپږمه ماده:**

(۱) د تولید دسیمو د جغرافیایي نښو د ثبت غوښتنلیک، ددې قانون دحکمونو

۷- شخص: شخص حقیقی یا حکمی، داخلی یا خارجی می باشد.

۸- منشأ: محل یا موقعیت جغرافیایی است که کالا در آنجا تولید می گردد.

## فصل دوم

## نشانه های جغرافیایی محل تولید

**ثبت نشانه های جغرافیایی محل تولید**

**مادۀ چهارم:**

نشانه های جغرافیایی محل تولید، طبق احکام این قانون، ثبت می گردد.

**حفظ و نگهداری اسناد**

**مادۀ پنجم:**

دفتر ثبت مرکزی، به منظور حفظ و نگهداری اسناد مربوط به نشانه های جغرافیایی محل تولید طبق احکام این قانون، سیستم منظم را بشمول سیستم الکترونیکی ایجاد می نماید.

**درخواست ثبت**

**مادۀ ششم:**

(۱) درخواست ثبت نشانه های جغرافیایی محل تولید، طبق احکام این

مطابق، د تولید د سیمو د جغرافیایي نښو د اړوندې مسئولې مرجع یا د هغوی د قانوني استازي لخوا، مرکزي ثبت دفتر ته وړاندې کېږي.

(۲) ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوی غوښتنلیک، لاندې مطالب لري:

۱- د مسئولې مرجع یا د هغوی د قانوني استازي نوم.

۲- د هغې مسئولې مرجع د سیمې یادول چې په ثبتولو یې لاس پورې کوي.

۳- په افغانستان کې د مسئولې مرجع د مرکزي دفتر یا د هغوی د فعالیت د سیمې آدرس او د دفتر د نه شتون په صورت کې، د مسئولې مرجع یا یې د قانوني استازي د نوم یادول.

۴- هغه نښه چې د تولید د سیمې د جغرافیایي نښې په نوم ثبتېږي.

۵- هغه کالي (مالونه) چې د تولید د سیمې جغرافیایي نښه پرې نښلول (نصب) کېږي.

٦- د قلمرو پوله، ساحه یا سیمه چې د کالیو په هکله، د تولید د سیمې د جغرافیایي نښې په نوم کارول کېږي.

قانون از طرف مرجع مسئول مرتبط به نشانه های جغرافیایی محل تولید یا نمایندهٔ قانونی آنها، به دفتر ثبت مرکزی ارائه می گردد.

(۲) درخواست مندرج فقرهٔ (۱) این ماده، حاوی مطالب ذیل مي باشد:

۱- نام مرجع مسئول یا نمایندهٔ قانونی آنها.

۲- ذکر محل مرجع مسئول که به ثبت آن اقدام می کند.

۳- ذکر آدرس دفتر مرکزی مرجع مسئول یا محل فعالیت آنها در افغانستان و در صورت عدم موجودیت دفتر، نام و آدرس مرجع مسئول یا نماینده قانونی آنها.

۴- نشانی که به عنوان نشانهٔ جغرافیایی محل تولید ثبت می گردد.

۵- کالای که نشانهٔ جغرافیایی محل تولید بالای آن نصب می گردد.

٦- مرز قلمرو، ساحه یا منطقهٔ که به عنوان نشانهٔ جغرافیایی محل تولید در مورد کالا ها به کار می رود.

۷- په کالیو باندې د تولید د سیمې جغرافیایي نښنه نښلول، چې د کالیو د نوعیت، کیفیت، شهرت او نورو مشخصاتو ښکارندوی ده، اړین وي.

۸- ددې فقرې په (۷) جزء کې د درج شوي نوعیت، کیفیت، شهرت او نورو مشخصاتو او د هغو کالیو د تولید د سیمې د منشاء په هکله څرګندونې چې د تولید د سیمې جغرافیایي نښنه پرې نښلول کېږي.

۹- د وضع شوو ستندردونو سره سم، د تولید پر واحدونو د ستندرد د علامې نښلول.

(۳) ددې مادې د (۲) فقرې په (۸) جزء کې درج شوی نوعیت، کیفیت، شهرت او مشخصات، د لاندې مواردو له په پام کې نیولو سره تثبیتېږي:

۱- رامنځته شوې تګلاره یا تولیدي طریقه، دقلمرو، ساحې یا سیمې مشخصات چې د نښې په نامه منل شوي دي.

۲- هغه ځانګړي وسایل او تجهیزات چې د کالیو په تولید او زېرمه کولو کې د ګټې

۷- نصب نشانهٔ جغرافیایی محل تولید بالای کالاهای که نمایانگر نوعیت، کیفیت، شهرت و سایر مشخصات کالا بوده، ضروری می باشد.

۸- توضیحات در مورد نوعیت، کیفیت، شهرت و سایر مشخصات مندرج جزء (۷) این فقره و منشای محل تولید کالا های که نشانهٔ جغرافیایی محل تولید بالای آن نصب می گردد.

۹- نصب علامت ستندرد به روی واحدهای تولید در مطابقت با ستندردهای وضع شده.

(۳) نوعیت، کیفیت، شهرت و مشخصات مندرج جزء(۸) فقرهٔ (۲) این ماده با درنظر داشت موارد ذیل تثبیت می گردد:

۱- روش ایجاد شده یا طریقه تولیدی، مشخصات قلمرو، ساحه یا منطقهٔ که به عنوان نشانه پذیرفته شده است.

۲- وسایل و تجهیزات مخصوصی که در تولید، پروسس و ذخیره کالاها مورد

اخيستنې ور ګرځېدلي دي.

۳- د اجزاوو يا اومو موادو کيفيت او طبيعت چې په توليد کې له هغو څخه په دوامدره توګه ګټه اخيستل کېږي يا مستثني کېږي.

۴- مشخص طبيعي عوامل (خاوره او اقليم) چې د توليد د سيمې په ساحه کې تشريح شوي او د کاليو په توليد، پروسس او برابرولو پورې اړه لري.

۵- ځانګړي بشري عوامل (د ټاکلي توليد په ساحه يا سيمه کې د توليد کوونکي د مسلکي رسومو او دودونو رامنځته کول يا تثبيتول) دي چې د کاليو توليد، پروسس او برابرول اغېزمن کړي.

۶- د کاليو د لاسته راوړلو تګلاره او طريقه.

۷- نور هغه عوامل چې د کاليو نوعيت، کيفيت، شهرت او مشخصاتو ته د توليد د سيمې له منشاء سره ارتباط ورکوي.

## د سندونو وړاندې کول

**اوومه ماده:**

مسئوله مرجع مکلفه ده، لاندې سندونه هم د توليد د سيمو د جغرافيايي نښو د

استفاده قرار گرفته است.

۳- کيفيت وطبيعت اجزاء يا مواد خامی که در توليد از آن به طور دوامدار استفاده شده يا مستثنی قرار می گيرد.

۴- عوامل طبيعی مشخص (خاک و اقليم)که در ساحهٔ محل توليد تشريح گرديده و مربوط به توليد، پروسس و تهيه کالا می باشد.

۵- عوامل بشری مخصوص (ايجاد يا تثبيت رسوم ورواج های مسلکی توليد کننده در ساحه يا منطقهٔ محل توليد معين) که توليد، پروسس و تهيه کالا را مؤثر سازد.

۶- روش يا طريق بدست آوردن کالا.

۷- ساير عوامل که نوعيت، کيفيت، شهرت و مشخصات کالا را با منشاء محل توليد ارتباط می دهد.

## ارائه اسناد

**مادهٔ هفتم:**

مرجع مسئول مکلف است، اسناد ذيل را نيز ضم درخواست ثبت نشانه های

ثبت له غوښتنليک سره ضميمه کړي، د مرکزي ثبت دفتر ته يې وړاندې کړي:

۱- د مسئولې مرجع د کنترول او څارنې کړنلاره چې د توليد د سيمې جغرافيايي نښه په منظمه او اختصاصي توګه پر هغو کاليو چې د نوعيت، کيفيت، شهرت او د هماغې ساحې يا سيمې د توليد د سيمې منشأ ته منسوب د نورو ځانګړنو لرونکې ده.

۲- هغه نقشه يا ليکلې څرګندونې چې د توليدي، سياسي، اداري، توپوګرافي سيمې، ساحې يا هغه ځای چې په لفظي ډول يا مشخصاً د پيشنهادي توليد د سيمې دجغرافيايي نښې په واسطه د مشخصو قلمرونو د پولو ښکارندوی ټاکل شوې وي.

۳- په سوداګرۍ کې د کارول شوي توليد د سيمې د جغرافيايي نښو نمونې.

۴- د هغو توليد کوونکو لست چې د مسئولې مرجع لخوا د غوښتنليک د وړاندې کولو په وخت کې د تأييد وړ ګرځېدلي وي، (د هغو شرايطو موجوديت چې له نښو څخه د ګټې اخيستنې معيارونه

جغرافيايی محل توليد، به دفتر ثبت مرکزی ارائه نمايند:

۱-طرزالعمل کنترول ونظارت مرجع مسئول که نشانۀ جغرافيايی محل توليد به طور منظم و اختصاصی بالای کالای که دارای نوعيت، کيفيت، شهرت وساير خصوصيات منسوب به منشای محل توليد همان منطقه يا ساحه می باشد.

۲- نقشه يا توضيحات کتبی که نشان دهندۀ مرز قلمروهای مشخص سياسی محل توليدی، اداری، توپوگرافی، ساحه يا منطقۀ که به گونۀ لفظی ويا مشخصاً توسط نشانۀ جغرافيايی محل توليد پيشنهادی تعيين شده باشند.

۳- نمونه نشانه های جغرافيايی محل توليد استفاده شده در تجارت.

۴- لست توليد کنندگان که از طرف مرجع مسئول حين ارايۀ درخواست مورد تائيد قرار گرفته باشد، (موجوديت شرايطی که معيار های استفاده از نشانه را در تجارت تکميل نموده

يې په سوداګرۍ کې بشپړ کړي دي).

۵- په کړنلاره کې د درج شوي ټاکلې اجرت (فيس) د ورکړې سند.

## د غوښتنليک ارزول

اتمه ماده:

(۱) د مرکزي ثبت دفتر، د ثبت غوښتنليک اخلي او غوښتنليک ورکوونکي ته هغه رسيدي سند چې نېټه او د دفتر مُهر ولري، ورکوي.

(۲) د مرکزي ثبت دفتر، غوښتنليک، ددې قانون د شپږمې او اوومې مادې د حکمونو له په پام کې نيولو سره د (۳۰) ورځو په ترڅ کې ارزوي، د تأييد، رد يا يې د نيمګړتياوو د لرې کولو په هکله تصميم نيسي او غوښتنليک ورکوونکي ته په ليکلي ډول خبر ورکوي.

(۳) غوښتنليک ورکوونکی، ددې مادې په (۲) فقره کې د درج شوې خبرتيا له ترلاسه کولو وروسته، د (۴۰) ورځو په ترڅ کې اړوندې نيمګړتياوې لرې کوي او کتباً د مرکزي ثبت دفتر ته يې وړاندې کوي. پرته لدې غوښتنليک رد شوی ګڼل کېږي.

است).

۵- سند پرداخت اجرت ( فيس )تعيين شده مندرج طرزالعمل.

## ارزيابی درخواست

مادۀ هشتم:

(۱) دفتر ثبت مرکزی، درخواست ثبت را اخذ و به درخواست دهنده، سند رسيدی را که حاوی تاريخ و مهر دفتر باشد، می دهد.

(۲) دفتر ثبت مرکزی، درخواست را در خلال (۳۰) روز با درنظر داشت احکام مواد ششم وهفتم اين قانون ارزيابی نموده، در مورد تائيد، رد يا رفع نواقص آن تصميم اتخاذ و به درخواست دهنده طور کتبی اطلاع می دهد.

(۳)در خواست دهنده، بعد از دريافت اطلاعيۀ مندرج فقرۀ(۲) اين ماده در خلال (۴۰) روز به رفع نواقص مربوط پرداخته و آنرا کتباً به دفتر ثبت مرکزی ارائه می نمايد. در غير آن، درخواست رد شده تلقی می گردد.

(۴) د غوښتنليک رد او د هغه تأييد د تصميم له مؤيدو دلايلو سره، د (۱۰) ورځو په ترڅ کې د مرکزي ثبت دفتر لخوا د اړوندې کړنلارې مطابق، د ټوليزو رسنيو له لارې د غوښتنليک ورکوونکي خبرتيا ته رسول کېږي.

**د توليد د سيمو د جغرافيايي نښو ملاتړ**

**نهمه ماده:**

د لاندې توليد د سيمو جغرافيايي نښې، تر ملاتړ لاندې قرار مومي:

۱- د توليد د سيمې جغرافيايي نښه چې ددې قانون د حکمونو مطابق، ثبت شوې وي.

۲- د توليد د سيمې جغرافيايي نښه د توليد د سيمې په مبداء يا د توليد د سيمې د مبداء په يوې برخې کې چې د بلې ملاتړ شوې د توليد د سيمې په جغرافيايي نښې پورې اړه ولري.

۳- د توليد د سيمې جغرافيايي نښه چې له قلمرو، ټاکلې ساحې يا سيمې سره اړه ولري چې د کاليو توليد هلته صورت مومي.

(۴) رد درخواست و تائيد آن، با دلايل مؤيد تصميم در خلال (۱۰) روز از طرف دفتر ثبت مرکزی طبق طرزالعمل مربوط از طريق رسانه های همگانی به اطلاع درخواست دهنده رسانيده می شود.

**حمايت نشانه های جغرافيايی محل توليد**

**مادۀ نهم:**

نشانه های جغرافيايی محل توليد ذيل مورد حمايت قرار می‌گيرد:

۱- نشانۀ جغرافيايی محل توليد که مطابق احکام اين قانون ثبت گرديده باشد .

۲- نشانۀ جغرافيايی محل توليد مربوط به مبدای محل توليد يا بخشی از مبدای محل توليد که به نشانۀ جغرافيايی محل توليد حمايت شده ديگری مربوط باشد.

۳- نشانۀ جغرافيايی محل توليد که به قلمرو، ساحه يا منطقۀ معينی ارتباط داشته باشد که توليد کالا در آنجا صورت می گيرد.

**اعتراض**

**لسمه ماده:**

**(۱) هر شخص کولای شي، د غوښتنلیک د تأیید په هکله، د (۴۰) ورځو په ترڅ کې خپل اعتراض د مرکزي ثبت دفتر ته وړاندې کړي.**

**(۲) د مرکزي ثبت دفتر مکلف دی، اعتراض ثبت او د (۱۰) ورځو په ترڅ کې، کاپي یې د ثبت غوښتنلیک ورکوونکي ته چې د هغه په وړاندې اعتراض صورت موندلی، وړاندې کړي.**

**(۳) ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوی اعتراض، لاندې مطالب لري:**

**۱- په افغانستان کې د مرکزي ادارې او د اعتراض کوونکي د سوداګرۍ د سیمې نوم او آدرس او د دفتر د نه شتون په صورت کې، په هېواد کې د هغه د قانوني استازي د نوم او آدرس یادول.**

**۲- ددې قانون د څلورمې او پنځمې مادې د حکم له په پام کې نیولو سره، د اعتراض د دلایلو یادول.**

**اعتراض**

**مادهٔ دهم:**

**(۱) هر شخص می تواند، در خلال (۴۰) روز در مورد تائید درخواست، اعتراض خود را به دفتر ثبت مرکزی ارائه نماید.**

**(۲) دفتر ثبت مرکزی مکلف است، اعتراض را ثبت و در خلال (۱۰) روز، نقل آنرا به درخواست دهندهٔ ثبت که علیه وی اعتراض صورت گرفته، ارائه نماید.**

**(۳) اعتراض مندرج فقرهٔ (۱)این ماده حاوي مطالب ذیل می باشد:**

**۱- ذکر نام و آدرس ادارهٔ مرکزی و محل تجارت اعتراض کننده در افغانستان و در صورت عدم موجودیت دفتر، نام و آدرس نمایندهٔ قانونی وی در کشور.**

**۲- ذکر دلایل اعتراض با درنظر داشت حکم مادهٔ چهارم و پنجم این قانون.**

## اعتراض ته ځواب ورکول

**یوولسمه ماده:**

(۱) د ثبت هغه غوښتنلیک ورکـــوونکی چې ددې قانون د لسمې مادې پــه (۲) فقره کې د درج شوي حکم مطـــابق، د اعتراض وړ گرځېدلی، مکلـــف دی، د (۲۰) ورځو په ترڅ کې د اعتراض ځواب په لیکلي ډول د مرکزي ثبت دفتـــر تـــه وړاندې او کاپي یې اعتراض کـــوونکي شخص لپاره کتباً واستوي.

(۲) د مرکزي ثبت دفتر کولای شي، د سندونو د برابرولو په منظور،له اړخونـــو څخه د یوې د غوښتنې پربنسټ، سندونو د برابرولو موده د اتمې مـــادې لـــه (۳) فقرې سره سم د یوې بلـــې دورې (۳۰) ورځو لپاره تمدید کړي.

(۳) غوښتونکی او اعتـــراض کـــوونکی کولای شي، سندونه او مدارک د اړوندې مقررې مطابق برابر او د مرکزي ثبت دفتر ته یې وړاندې کړي.

(۴) که چېرې د مهلت غوښتونکی ددې مادې په (۲) فقره کـــې د درج شـــوې مودې سره ونشي کړای سندونه برابر او

## پاسخ به اعتراض

**مادۀ یازدهم:**

(۱) درخواست دهندۀ ثبت که مطـــابق حکـــم منـــدرج فقـــرۀ (۲) مـــادۀ دهم این قانون مورد اعتراض قرار گرفته، مکلف اســـت، درخـــــلال (۲۰) روز پاســـــخ اعتـــــراض را طـــــورکتبی به دفتر ثبت مرکزی ارائه و نقل آنـــرا برای شخص معتـــرض کتبـــاً ارســـال نماید.

(۲) دفتر ثبت مرکزی می توانـــد، بـــر اساس درخواست یکی از طـــرفین بـــه منظور تهیه اسناد، مدت تهیه اســـناد را برای یک دوره دیگر (۳۰) روز مطابق به فقـــرۀ (۳) مـــادۀ هشـــتم تمدیـــد نماید.

(۳) درخواســـــت کننـــــده و معتـــرض می توانند، اسناد و مـــدارک را طبـــق مقررۀ مربوط تهیه وبه دفتر ثبت مرکزی ارایه نمایند.

(۴) هرگـــــاه درخواســـــت کننـــــدۀ مهلت نتواند در میعاد مندرج فقرۀ (۲) این ماده اسناد را تهیه و ارائه نمایـــد،

وړاندې کړي، غوښتنه يې ردېـږي او د مرکزي ثبت دفتر، غوښتونکي او معترض ته کتباً خبر ورکوي.

**د ثبت د دفتر تصميم**

**دوولسمه ماده:**

(۱) په هغه صورت کې چې د مرکــزي ثبت دفتر د غوښتنليک په ثبتولو تصميم ونيسي، مکلف دی، د توليــد د ســيمې جغرافيايي نښه چې لاندې موارد پکــې شامل دي، ثبت کړي:

۱- د توليد د سيمې د جغرافيايي نښــې نوم.

۲- کالي يا د کاليو هغه ټولګه چې پرې د توليد د سيمې جغرافيايي نښــه نښــلول کېږي.

۳- د توليد د سيمې د جغرافيايي نښــې اړوندې پولې.

۴- د شتون په صورت کې، د توليــد د سيمې د جغرافيايي نښې اړوند شرايط.

۵- د هغې مسئولې مرجع نــوم چــې د توليد د سيمې جغرافيايي نښه هغې پورې اړه لري.

۶- هغه توليد کوونکي چې د مســئولې

درخواست وی رد گرديده و دفتر ثبت مرکزی به درخواست کننده و معترض کتباً اطلاع می دهد.

**تصميم دفتر ثبت**

**مادهٔ دوازدهم:**

(۱) در صورتی که دفتر ثبت مرکزی به ثبت درخواست تصميم اتخاذ نمايـد، مکلف است، نشانهٔ جغرافيــايی محــل توليد را که شامل موارد ذيل می باشد، ثبت نمايد:

۱-نــام نشــانهٔ جغرافيــايی محــل توليد.

۲-کالا يا صنف از کالاهای که نشانهٔ جغرافيايی محل توليد بالای آن نصــب می گردد.

۳- مرز های مرتبط به نشانهٔ جغرافيايی محل توليد.

۴- شرايط مربوط به نشانهٔ جغرافيــايی محل توليد، در صورت موجوديت.

۵-نام مرجــع مســئول کــه نشــانهٔ جغرافيايی محــل توليــد، مربــوط آن می گردد.

۶-توليد کننــدگانی کــه از طــرف

مرجع لخوا د تأييد وړ ګرځېدلي او په سوداګرۍ کې د توليد د سيمې له جغرافيايي نښې څخه د ګټې اخيستنې معياري شرطونه يې بشپړ کړي وي.

(۲) د مرکزي ثبت دفتر، د هغو کاليو د توليد د سيمې د جغرافيايي نښې له ثبت څخه، چې په غير واقعي توګه جغرافيايي منشاء ته منسوب شوی وي او يا د کاليو د اصلي منشاء په اړه د عمومي ګمراهي لامل ګرځي، ډډه کوي.

هر ذينفع کولای شي د توليد د سيمې د دغه ډول جغرافيايي نښو د ثبت د ابطال غوښتنه له محکمې څخه وکړي.

## د تېروتنې صحيح کول

**ديارلسمه ماده:**

(۱) که چېرې د مرکزي ثبت دفتر تشخيص کړي چې د توليد د سيمو د جغرافيايي نښو په ثبتولو کې تېروتنه شوې، کولای شي هغه صحيح کړي.

(۲) مسئوله مرجع کولای شي، د اړوندې مقررې د حکمونو له په پام کې نيولو سره، د هغو توليد کوونکو په لست کې چې واردمخه د تأييد شوو معيارونو مطابق

مرجع مسئول مورد تائيد قرار گرفته و شرايط معيارى استفاده از نشانهٔ جغرافيايى محل توليد را در تجارت تکميل نموده باشد.

(۲) دفتر ثبت مرکزی، از ثبت هر نشانهٔ جغرافيايى محل توليد برای کالاهای که به طور غير واقعی منسوب به منشاء جغرافيايى شده است يا موجب گمراهی عموم نسبت به منشاء اصلی کالا می گردد، خود داری می نمايد.

هر ذينفع می تواند ابطال ثبت اين گونه نشانه های جغرافيايى محل توليد را از محکمه درخواست نمايد.

## تصحيح اشتباه

**مادهٔ سيزدهم:**

(۱) هر گاه دفتر ثبت مرکزی تشخيص نمايد که درثبت نشانه های جغرافيايى محل توليد اشتباه صورت گرفته، می تواند آ نرا تصحيح نمايد.

(۲) مرجع مسئول می تواند، با نظر داشت احکام مقررهٔ مربوط در لست توليد کنندگانی که قبلاً غرض استفاده از نشانه های جغرافيايى

د تولید د سیمو له جغرافیایي نبنو څخه د ګټې اخیستنې په غرض، ثبت شوي دي، بدلونونه راوړي.

## د تولید د سیمو د جغرافیایي نبنو لېرې کول (حذفول)

خوارلسمه ماده:

(۱) که چېرې د تولید د سیمو جغرافیایي نبنې، پدې قانون کې د درج شوي ثبت د شرایطو له بشپړېدو څخه دمخه، ثبت شوې وي، د مرکزي ثبت دفتر، پخپله یا د علاقه لرونکو اشخاصو د غوښتنې پربنسټ کولای شي، د مرکزي ثبت له دفتر څخه یې حذف کړي.

(۲) د مرکزي ثبت دفتر، د تولید د سیمې د جغرافیایي نبنې د لرې کولو دلایل، د اړوندې کړنلارې مطابق مسئولې مرجع ته خبر ورکوي او د اړتیا په صورت کې کولای شي د اثباتیه سندونو د برابرولو لپاره هغه ته وخت ورکړي.

(۳) که چېرې مسئوله مرجع د خبرتیا له ترلاسه کولو وروسته په ټاکلې موده کې د مرکزي ثبت دفتر ته لیکلی ځواب وړاندې نه کړي، د حذف په اړه د مرکزي ثبت د

محل تولید طبق معیار های تائید شده، ثبت گردیده اند، تغییرات را وارد نماید.

## حذف نشانه های جغرافیایی محل تولید

مادهٔ چهاردهم:

(۱) هرگاه نشانه های جغرافیایی محل تولید قبل از تکمیل شرایط ثبت مندرج این قانون، به ثبت رسیده باشد، دفتر ثبت مرکزی، خود یا به اساس درخواست اشخاص ذیعلاقه می تواند، آنرا از دفتر ثبت مرکزی حذف نماید.

(۲) دفتر ثبت مرکزی دلایل حذف نشانهٔ جغرافیایی محل تولید را طبق طرزالعمل مربوط به مرجع مسئول اطلاع داده و در صورت لزوم می تواند جهت تهیه اسناد اثباتیه به وی مهلت بدهد.

(۳) هرگاه مرجع مسئول بعد از در یافت اطلاعیه در مدت معین، جواب کتبی را به دفتر ثبت مرکزی ارائه کرده نتواند، تصمیم دفتر ثبت مرکزی

دفتر تصمیم نهايي ګڼل کېږي او له موضوع څخه په لنډ وخت کې مسئولې مرجع ته په ليکلي ډول خبر ورکول کېږي.

## محکمې ته د مراجعې حق

**پنځلسمه ماده:**

غوښتنليک ورکوونکی او اعتراض کوونکی هر يو کولای شي، د مرکزي ثبت د دفتر پر تصميم باندې د نه قناعت په صورت کې، د (۳۰) ورځو په ترڅ کې د سوداګرۍ واکمنې محکمې ته مراجعه وکړي.

## د درغلۍ (تخلف) موارد

**شپاړسمه ماده:**

لاندې اعمال درغلۍ ګڼل کېږي:

۱– د ملاتړ شوو د توليد د سيمو له جغرافيايي نښو څخه غير مجازه ګټه اخيستنه.

۲– د هغو کاليو د ټاکلو او برابرولو لپاره د سوداګرۍ په چارو کې د هر ډول ابزارو کارول چې د کاليو منشاء، د هغو له اصلي او حقيقي منشاء څخه پرته ښکاروندی وي او د کاليو د توليد د

مبنی بر حذف، نهایی تلقی گردیده و از موضوع به اسرع وقت به مرجع مسئول طور کتبی اطلاع داده می شود.

## حق مراجعه به محکمه

**مادۀ پانزدهم:**

درخواست دهنده و اعتراض کننده هر یک می توانند در صورت عدم قناعت به تصمیم دفتر ثبت مرکزی در خلال (۳۰ ) روز به محکمۀ تجارتی ذیصلاح مراجعه نمایند.

## موارد تخلف

**مادۀ شانزدهم:**

اعمال ذیل تخلف شمرده می شود:

۱–استفادۀ غیر مجاز از نشانه های جغرافیایی محل تولید حمایت شده.

۲–استفاده از هر نوع ابزار در امور تجارت برای تعیین وتهیه کالای که نشان دهنده منشای کالا، غیر از منشای اصلی و حقیقی آن بوده و ذهنیت عامه را در مورد مبدای

سيمې د مبداء په هکله، عامه ذهنيت په تېروتنه کې واچوي.

۳- يوې بلې ساحې يا سيمې ته د هغو کاليو د توليد د منشاء د واقعيت خلاف معرفي کول چې په يوې ټاکلې ساحې يا سيمې پورې اړه لري.

۴- د سوداګرۍ په چارو کې د توليد د سيمو د جغرافيايي نښو کارول په داسې ډول چې د مستهلکينو دحقوقو د ملاتړ د قانون د حکمونو مطابق، سيالۍ (رقابت) غير عادلانه وي.

## دريیم فصل

## متفرقه حکمونه

**ثبت شوو نښو ته لاس رسۍ**

**اوولسمه ماده:**

(۱) هر شخص کولای شي، د رسمي ورځو او هغو وختونو په بهير کې چې د مرکزي ثبت د دفتر لخوا مشخص کېږي، د حق الزحمې له ورکړې پرته د مرکزي ثبت دفتر ته لاس رسی ولري.

(۲) غوښتنليک ورکوونکی کولای شي، د اجورې (فيس)، له ورکړې وروسته، د

محل تولید کالا ها به اشتباه اندازد.

۳- معرفی نمودن خلاف واقعیت منشاء تولید کالاهای که مربوط به یک ساحه یا منطقهٔ معین می باشد به ساحه یا منطقهٔ دیگر.

۴- استفادهٔ از نشانه های جغرافیایی محل تولید در امور تجارت طوری که طبق احکام قانون حمایت حقوق مستهلکین، رقابت غیر عادلانه باشد.

## فصل سوم

## احکام متفرقه

**دسترسی به نشانه های ثبت شده**

**مادهٔ هفدهم:**

(۱)هر شخص می تواند، در جریان روزهای رسمی و اوقاتی که از طرف دفتر ثبت مرکزی مشخص می گردد، بدون پرداخت حق الزحمه به دفتر ثبت مرکزی دسترسی داشته باشد.

(۲) درخواست دهنده می تواند، بعد از پرداخت اجرت (فیس)، نقل تصدیق نامهٔ

ثبت شوي توليد د سيمو د جغرافيايي نبنو د تصديق ليک نقل د مرکزي ثبت له دفتر څخه وغواړي.

## ددې قانون د حکمونو د نه تطبيقولو موارد

**اتلسمه ماده:**

ددې قانون حکمونه له لاندې حقوقو څخه د ګټې اخيستنې خنډ کېدای نشي:

۱- د سوداګريزو نبنو د ثبت د قانون د حکمونو مطابق، هغه سوداګريزې نبنې چې واردمخه په ښه نيت سره غوښتل شوي يا ثبت شوي وي.

۲- د کاليو يا ورته خدمتونو په هکله نبنه چې په دوديزو شرايطو سره، په افغانستان کې د دغه ډول کاليو يا خدمتونو لپاره د يوه عمومي نوم په توګه ګڼل شوې وي.

۳- په سوداګريزو چارو کې د شخص يا د هغه د اجدادو (نيکونو) د نوم کارول، پدې شرط چې د عامه ذهنونو د ګډوډولو موجب نشي.

نشانه های جغرافیایی محل تولید ثبت شده را از دفتر ثبت مرکزی درخواست نماید.

## موارد عدم تطبیق احکام این قانون

**مادهٔ هجدهم:**

احکام این قانون مانع استفاده از حقوق ذیل شده نمی تواند:

۱-علایم تجارتی که قبلاً به حسن نیت طبق احکام قانون ثبت علایم تجارتی، درخواست یا ثبت گردیده باشد.

۲-نشانه در مورد کالا یا خدمات مشابه که با شرایط عنعنوی بحیث یک نام عمومی برای چنین کالا وخدمات در افغانستان شناخته شده باشد.

۳-استفادهٔ نام شخص یا اجداد وی در امور تجارت، مشروط براینکه موجب اختلال اذهان عامه نگردد.

## تخلف ته رسيدگي

**نولسمه ماده:**

مدني، جزايي تخلف او ددې قانون اړوند له نورو اجرائيوي اقداماتو اومخه نيوونکو تدبيرونو څخه ناوړه ګټه اخيستنه، د اړوندو تقنيني سندونو مطابق څېړل کېږي.

## د مقررو او کړنلارو وضع کول

**شلمه ماده:**

د سوداګرۍ او صنايعو وزارت کولای شي، ددې قانون د حکمونو د ښه تطبيقولو په منظور، مقرره وړانديز او کړنلاره وضع کړي.

## انفاذ

**يوويشتمه ماده:**

دغه قانون په رسمي جريده کې د خپرېدو له نېټې څخه نافذېږي.

## رسيدگی به تخلف

**مادۀ نزدهم:**

تخلف مدنی، جزايی، سوء استفاده از ساير موارد مربوط به اقدامات اجرائيوی و تدابير باز دارنده اين قانون طبق اسناد تقنينی مربوط رسيدگی می‌گردد.

## وضع مقرره ها وطرزالعمل ها

**مادۀ بيستم:**

وزارت تجارت وصنايع می تواند، به منظور تطبيق بهتر احکام اين قانون، مقرره را پيشنهاد وطرزالعمل را وضع نمايد.

## انفاذ

**مادۀ بيست ويکم:**

اين قانون از تاريخ نشر در جريدۀ رسمی نافذ می‌گردد.

# اشتراک سالانه:

در مرکـــــز و ولایـــــات :　　　(۹۰۰) افغـــــانی

بـــرای مـــامورین دولـــت: بـــا ۲۵ فیصـــد تخفیـــف

برای متعلمین و محصلین با ارائه تصـــدیق، نصـــف قیمـــت

برای کتاب فروشی ها با ۱۰ فیصد تخفیف از قیمت روی جلد

خـــارج از کشـــور:　　　(۲۰۰) دالـــر امریکـــائی

ISLAMICREPUBLIC
OF
AFGHANISTAN
MINISTRY OF JUSTICE

# OFFICIAL GAZETTE

# Law on Geographical Signs of Production Points

**Date:17th August .2015**
**ISSUE NO :(1178)**